بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

دملت غږ

یووالی، ایمان، انضباط

# لکی مروت؛ پر امنیتي منسوبینو په برید کې د ښکیل خوارج عبرتناک انجام ته ورسول شو، 11 خوارجان جهنم ته استول شوی

لکی مروت په مضافاتی سیمه کښي سیکیورټی فورسز د ترهه ګرو موجودیت په اړه د خفیه اطلاع په بنیاد کاروائي کښي 11 خوارجان وژلي دي۔

**د تفصیلاتو له مخې امنیتي ځواکونو د هراړخیزې تګلارې او ټولو وسائلو په کارولو سره د ترهګرو د شتون په اړه د اطلاع په ترلاسه کولو سره مرکز محاصره کړ او د درنو ډزو په تبادله کښې 11 تنه خوارجان ووژل شول۔**





**وژل شویو ترهګرو پرون د امنیتي ځواکونو پر کاروان د برید ترخنګ په ګڼو ترهګریزو کړنو کې لاس درلود، چې وژل یې د خوارج لپاره لوی ګوزار دی۔**

امنیتي ځواکونه هوډ لري چې زموږ د شهیدانو وینه به بې ځایه نه ځي او د دغو دوزخي مسافرو وژل به له سیمې خخه د وروستي ترهګر تر شړلو پورې دوام ولري۔ که خدای کول۔